# روژه او ګراني

مم، یوسفزے

الله پاک فرمائي ((د رمضان میاشت هغه ده چې په کښې قرآن نازل شوے دے)) خو دلته زمونږ په وطن کښې چې څنګه دا میاشت راشي نو د ملک واکمن په ((عوام کالانَعام)) د لوږ شپږنګ طوفان سره د د دې مهربانۍ رانازل کړي چې د پېشمني او روژه ماتي په وخت کښې به لوډشېډنګ نۀ شي کولے او د کمال خبره دا وي چې په دغو وختونو کښې هم د بجلۍ واکمن خلقو ته بجلي بندوي او څوک ئې د تپوس نۀ وي. عوامو ته مې ((کالانَعام)) ځکه ووې چې زمونږ د عوامو نه اَنعام جوړ شوي دي په هیڅ یوه خبره احتجاج نۀ کوي.

دغه شان د رمضان شروع کېدو نه ورځ دوه مخکښې به تاسو د ملک د واکمنو خبرې په اخبارونو کښې ګورئ چې ذخیره اندوزي کونکي سره به داسې سلوک کولے شي، ګران پوشي دکانداران به قېدولے شي، قصابان به جرمانه کولے شي، مصنوعي قلت راپېدا کونکي سره به ډېره د سختۍ معامله کولے شي. رمضان راشي او لاړ شي نۀ نرخونه راکم شي، نۀ ذخیره اندوزي بنده شي، نۀ ګران پوشو دکاندارو له سزا ورکړې شي. د هر رمضان نه مخکښې د حکومت واکمن اعلانونه وکړي چې دکانداران به زمونږ مقرر کړې نرخنامه ځان سره په دکان کښې ځوړنده ساتي، دکانداران د حکومت دغه خبره خو ومني او نرخنامه په دکان کښې یو ګُټ ته اویزانده کړي خو نرخ خپل چلوي ګني ورشئ یو قصاب له او وګورئ چې هغه څومره د حکومت په نرخنامه عمل کوي؟

دغسې د حکومت د دې کاغذي اقداماتو باوجود ذخیره اندوزي کونکي روژه دار او مونځ ګزار سېټان او تاجران چې اکثریت پکښې حاجیان هم وي راباندې مصنوعي قات راولي، کله رانه اوړۀ په یو ګودام کښې او بل ګودام کښې پټوي او کله غوړي او کله چیني غائبوي او روژه په څُلۀ عوام کالانعام وریسې خوار و زار ګرځي.

د رمضان په میاشت کښې په جوماتو کښې عالمان دا خبره ډېره کوي چې رمضان د برکتونو میاشت ده. دغسې د روژې چې نور کوم لوازمات دي هغه هم راته بیانوي خو مونږ پرې عمل نۀ کوو صرف د خوراک څښاک نه مو ډډه کړې وي نور د پردي حق نه نۀ جاروځو، د بل مسلمان د غیبت نه نۀ منع کېږو، کنځل او دروغ وئیل خو زمونږ عادت جوړ شوے دے د هغې پرېښودو ته خو هډو تیار نۀ یو، پردو تور سرو ته د کتو نه نۀ اوړو، د دوکې نه څنډه نۀ کوو، د ذخیره اندوزۍ نه لاس نۀ اخلو، د بل د ازارولو نه ډډه نۀ کوو، د دې هر څۀ دپاسه د جنت دعویدار هم یو چې مونږ به جنت ته ځو.

د روژې د میاشتې د برکت واله خبره باندې دې دکاندارانو او سېټانو لکه چې پوره او پوخ عمل کړے دے ځکه چې د هغوي لږ او بېکاره مال په دې میاشت کښې دومره برکتي شي چې اکثر د شلمې روژې نه پس هغه، په دغې برکتي پېسو عمرې له هم لاړ شي.

زما د یو ملګري وینا ده چې د رمضان دا برکتونه خو صرف د دې لویو خلقو دپاره دي مونږ خو ټوله ورځ دیاړي وکړو بیا سبر اوړو پسې سر وهلي بر وهلي ګرځو. خو زۀ ورته اکثر دا وایم چې تاله به الله پاک د دې روژې دوه چنده اجر درکوي ځکه چې یو خو

تهٔ د روژې سختي برداشت کوې او بل د ګران پوشه دکاندارانو او ذخیره اندوزو د لاسه در په دیکې ئې.

چې د ګرانۍ په ژرنده دل شي خلق
په لاسو پښو او ذهن شل شي خلق
چې ګټې لږه او تري لګي ډېره
څنګه به نۀ څنګ به بدل شي خلق